د احتمالوالي وېشنه يا ښه يي ټوټه کونه يا په برخو يا ټوټو وېشنه
که د دوه سترګيو غورځولو سره د نتيجه د سترګيو د جمعي سره( باندې) تنظيم شي ، نو توکلي متحوله يا اووښتونې X منځ ته راځي.
که د دې توکلي متحولې د هغې د احتمالوالي سره تنظيم کړي، نو يو احتمالواليويش ( احتمالوالي فنکشن) منځ ه ارځي. د احتمالوالي وېشنه يا د توکلي لويې وېشنه کېدی شي سرې د يوه جدول له لارې او يوه هېستوګرام له لارې انځور کړي.
جدول :

| $x_i$ | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8 | 9 | 10 | 11 | 12 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| $P(X = x_i)$ | $\frac{1}{36}$ | $\frac{2}{36}$ | $\frac{3}{36}$ | $\frac{4}{36}$ | $\frac{5}{36}$ | $\frac{6}{36}$ | $\frac{5}{36}$ | $\frac{4}{36}$ | $\frac{3}{36}$ | $\frac{2}{36}$ | $\frac{1}{36}$ |

هيستوګرام: د المانيېښتو: هيستوګرام، د سترګيو زياتون يا جمعه




د احتمالوالي وېشنه يا په برخو ټوټه کونه:

د تصادفي متحولې د يوه احتمالوالي وېشنې (احتمالوالي فنکشن يا تابع) f لاندې يو فنکشن fپوهيږود لاندې سره

$$f : x_i \to P(X = x_i)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فنکشن ارزښت $f(x) = P( X=xi)$ د دې لپاره احتمالوالی راکوي، چې X ارزښت xi نیسي یا غوره کوي.

د فنکشن یا تابع انځورونه د بېلګې په توګه ددوه دانوسترګیزو غور ځول، چې د هغو د سترګو جمعه تشکیلېږي.




## د یوه احتمالوالي په برخېوته ونې انتظارارزښت

د احتمالوالي شمیرنې د مرستې سره سرې غواړي د بېلګې په توګه د بختلوبو د انتظار ګټې همداسې بایلښت اتظار په هکله وېناوې و کوي. داپوښتنه رامنځ ته کېږي: دزیات لوبو کونې سره په هره لوبه کې د کومو وړنو انتظار کیدی شي؟

| $x_i$ | $P(X = x_i)$ | $x_i \cdot P(X = x_i)$ |
|---|---|---|
| 2 | $\frac{1}{36}$ | $2 \cdot \frac{1}{36} = \frac{2}{36}$ |
| 3 | $\frac{2}{36}$ | $3 \cdot \frac{2}{36} = \frac{6}{36}$ |
| 4 | $\frac{3}{36}$ | $4 \cdot \frac{3}{36} = \frac{12}{36}$ |
| 5 | $\frac{4}{36}$ | $5 \cdot \frac{4}{36} = \frac{20}{36}$ |
| 6 | $\frac{5}{36}$ | $6 \cdot \frac{5}{36} = \frac{30}{36}$ |
| 7 | $\frac{6}{36}$ | $7 \cdot \frac{6}{36} = \frac{42}{36}$ |
| 8 | $\frac{5}{36}$ | $8 \cdot \frac{5}{36} = \frac{40}{36}$ |

د لیدوړوالي لپاره موږ بیرته د دوه دانو سترګیو سترګو جمعې ته ځو. له دې کیدی شي یوه بختلوبه جوړه کړو، په هغه کې چې لاندې قوانین مطرح شي:

قانون: په یوه ګوزارونه یا اچونه کې د سترګیو جمعې لپاره په € ورکولکیږی. د لوبو خاوند طبعاً باید په دې هکله فکر وکړي، چې د لوبو په سر شرط باید څومره لوي وي، له کوم سره چې هغه تاوان ونه کړي. د دې لپاره باید دی پوه شي، چې کوم ارزښت دی باید په متوسطه توګه ورکړي،چې زیات کسان په لوبه احته وي. همدومره جګه باید د بیسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اینوونه یا شرط هم باید وي.

په ورته توګه لکه په تشریحي ستاتیستیک کې د یوه زیاتوالي دمنځ ارزښت جوړول صورت نیسي د پیسو د ورکړو ارزښت د هغه د منځ ارزښت سره د ضرب له لارې یو ارزښت جوړ کړي.

دا ار زښت د انتظار ارزښت بولو. زموږ د بېلګې لپاره دا د ارزښت 7 په معنا دی، چې د جګ تعداد لوبو کې په منځنۍ توګه دلوبې په سر 7 € تادیه یا ورکړل شي.

| | | |
|---|---|---|
| 9 | $\frac{4}{36}$ | $9 \cdot \frac{4}{36} = \frac{36}{36}$ |
| 10 | $\frac{3}{36}$ | $10 \cdot \frac{3}{36} = \frac{30}{36}$ |
| 11 | $\frac{2}{36}$ | $11 \cdot \frac{2}{36} = \frac{22}{36}$ |
| 12 | $\frac{1}{36}$ | $12 \cdot \frac{1}{36} = \frac{12}{36}$ |
| | Erwartungswert $E(X)$ | $\frac{252}{36} = 7$ |

د لوبو خاوند باید لږ تر لږه یو د پیسو اینوونه 7 € و غواړي، چې تاوان ورته پېښ نه شي.

د بایللو پیسو ورکوني ارزښتونه د تصادفي متحولي X سره برابر دي د دې لاندې ارزښتونو سره :

2, 3, 4, 5, 6, 7, 8, 9, 10, 11, 12

اوس لوبه د لوبه کونکي له لید څېړو، چې د لوبې لپاره 7 € باې ورکړي یا کیږدي..

د هغه لپاره ګټه داسې شمېرل کیږي:

ګټه = په لوبه کې لا ست ه راوړې پیسې – دلوبې اینوولې پیسې

Gewinn = Ausspielung – Einsatz

ګټه تصادفی متحوله یا اووښتوني سره برابره ده، چې Y یې بولو، پس Y د دې لاندې ارزښتونو سره :

-5, -4, -3, -2, -1, 0, 1, 2, 3, 4, 5

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې سره د ګټې کيدی شي د انتظار ارزښت پيدا کړو.

$$E(Y) = -5\cdot\frac{1}{36} - 4\cdot\frac{2}{36} - 3\cdot\frac{3}{36} - 2\cdot\frac{4}{36} - 1\cdot\frac{5}{36} + 1\cdot\frac{5}{36} + 2\cdot\frac{4}{36} +$$

$$+3\cdot\frac{3}{36} + 4\cdot\frac{2}{36} + 5\cdot\frac{1}{36} = 0$$

د انتظارارزښت د ګټې لپاره $0$ دی. داپه دې معنا چې په اوږده موده کې یاپه اوږده لید لوبغاړی لوبه نه وړي یا نه ګټي. مګر دا يې بايلي هم نه. چانسونه برابر دي.

## د $X$ د انتظار ارزښت

که يوه تصادفي متحوله $X$ ارزښت $x_1, x_2, \ldots x_n$ ولري ، نو

$$E(X) = x_1 \cdot P(X = x_1) + x_2 \cdot P(X = x_2) + \ldots + x_n \cdot P(X = x_n) =$$

$$= \sum_{i=1}^{n} x_i \cdot P(X = x_i)$$

د$x$ انتظار ارزښت بلل کيږی.

په ياد ولره :

که $E(X) > 0$ وي، نو نودا لوبه د لوبه کوونکي لپاره مساعده ده ( ګټوره) بلل کيږي.

که $E(X) = 0$ وي، نو دا لوبه عادلانه بلل کيږي.

که $E(X) < 0$ وي، نو دا لوبه د لوبه کوونکي لپاره نامساعده( ناعادلانه) بلل کيږي.

د انتظار ارزښت ته يادونې: د انتظا ارزښت د$X$ انتظار منځ ارزښت سره د تصادفي ازمايښتونو په يوه لړی کې دی.
په دې ترځ کې چې منځ ارزښت – د تشريحي ستاتيستيک څخه يوه لويه- په تېر وخت پورې اړه لري، کوم چې په نمونه ارزښت کې په ريښتونې رامنځ ته شوي دی، د انتيار ارزښت يوع لويه تشريح کوي، چې په راتلونکې پورې اړه لري، نو يوه لويه چې د اوږده وخت لپاره يه هغې حساب کولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د E(X) په ځای لیکلای شو μx یا لنډ μ

د P(X=xi) په ځای Pi سړی هم لیکلای شي.

لکه په منځ ارزښتکې همداسې انتظار ارزښت کې هم په ډېرو حالتونو کې په هغو ارزښتونوپورې اړه نه لري، چې تصادفي پېښه يې نيولی شي.

## بيلګه او تمرين

د يوه مسلکي ښوونحي په انکړ کې سره له دې چې اجازه نه لري کله کله يوه په زړه پورې بخت لوبه کيږي.

د لوبې قانون: د هرې لوبې په سر د بيسو اينوولو ارزښت 2 € دی.

لوبه کوونکی لومړی عددونه 6 , ... ,3 ,2 ,1 نيسي.

پسې درېواره د يو سترګی غورځوي.

که دا غوره شوي عدد را نه ووځی نو لوبه بايلل شوې.
که غوره شوی هدد يو ځل رامنځ ته شي، نو دی دا يو ايښول شوی ارزښت بيرته راکوي.

که دا غوره شوی عدد دوه واره راووځي،نو لوبه کوونکی د دې اينبول شوو پيسودوه برابره لاس ته راوړي.

که دا غوره شوی عدد دری واره راووځي،نو لوبه کوونکی د دې ايښول شوو پيسودرې برابره لاس ته راوړي

غوره پوښتنه، چې دلته رامنح کيږي داده، د ګټې د اټکل پوښتنه ده. په دې ټول زدهکوونکي (ن، ښ) غواړي وپوهيږي، او په رېښتونی هغه ، چې غواړي لوبه وکړي او هغه چې بانک لري( هغه ځوک چې لوبه مخ ته بيايي او نورو ټولو سره شرط کې دی).
دا پوښتنه د احتمالوالي شمېرنې سرهکېدی شي ځاب شي.

تصادفی متځوله X نغده ګڼه ده، دا هغه ارزښت دی چې لوبه کوونکې ته ورکول کيږي، دا د2 € په کمښت سره چې شرط يې ايښوولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library






د درې پوړيزې ونې دياګرم او د تار قانون په مرسته سړى احتمالوالى د يوې بايليدني يا همداسې يوې ګټني لپاره شميرې.

باور لري: ګټنه = G

بايلنه =V .

| $x_i$ | $P(X=x_i)$ |
|---|---|
| −2 | $\left(\frac{5}{6}\right)^3 \approx 0,5787$ |
| 0 | $3 \cdot \left(\frac{1}{6}\right) \cdot \left(\frac{5}{6}\right)^2 \approx 0,3472$ |
| 2 | $3 \cdot \left(\frac{1}{6}\right)^2 \cdot \left(\frac{5}{6}\right) \approx 0,0694$ |
| 4 | $\left(\frac{1}{6}\right)^3 \approx 0,00463$ |

د ګټلو چانس شميرنه کې د تصادفي پيښې ارزښتونو د اړونده احتمالواليو سره ضربول او نتيجې يې سره جمعه کول.

| $x_i$ | $P(X=x_i)$ | $x_i \cdot P(X=x_i)$ |
|---|---|---|
| −2 | $\left(\frac{5}{6}\right)^3 = \frac{125}{216}$ | $-\frac{250}{216}$ |
| 0 | $3 \cdot \left(\frac{1}{6}\right) \cdot \left(\frac{5}{6}\right)^2 = \frac{75}{216}$ | 0 |
| 2 | $3 \cdot \left(\frac{1}{6}\right)^2 \cdot \left(\frac{5}{6}\right) = \frac{15}{216}$ | $\frac{30}{216}$ |
| 4 | $\left(\frac{1}{6}\right)^3 = \frac{1}{216}$ | $\frac{4}{216}$ |
| | Mittelwert | $-\frac{216}{216} = -1$ |

شميرلى عدد1- دا وايي، چې به اوږده موده کې، يعني د لوبې د ډېر و تکرارونو به هره لوبه کې د Euro 1 د لوبه کوونکي لپاره د زيان انتظار دى. دا پيسې طبعاً بانک اخلي. له دې امله دا لوبه نا عادلانه بلل کيږي، ځکه چې د اړدې مودې ګټه اوزيان سره برابر ده يا په انډول کى دي.

ګټه او زيان به په يوه منځ ارزښت 0 کې په انډول کې وى. دا به بيا عادلانه لوبه وى. دا به د بيلګې په تګه د ګټني چګوالي سره د رسيدو وى يا لاس ته راغلي وى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمرین:

په پورته معرفي شوې سترګي لوبه کې د انتظار ارزښت $E(X) = -1$ وو.

پس لوبه عادلانه نه ده.

د یوه لوبهکوونکی لپاره پیسي اېښوونه باید څومره وي، چې دا لوبه عادلانه و بلل شي؟

د ګټې ورکونه دارزښت له امله برابره پاتې کیږي:

که هغه د شرط عدد را ونه ووځي،نو د پیسوورکونه € 0 ده.

که هغه د شرط عدد یو ځله را ووځي، نو د پیسو ورکونه(ګټونکي ته ) € 2 دي.

که هغه د شرط عدد دوه ځله را ووځي، نو د پیسو ورکونه(ګټونکي ته ) € 4 دي.

که هغه د شرط عدد درې ځله را ووځي، نو د پیسو ورکونه(ګټونکي ته ) .€ 6 دي.

تمرین:

په لاتري لوبهکې هرلاتري ګټي.

د دولسم درس تمامېدو ( بکلوریا) جشنکې باید هر یو له دې 50 برخه اخستونکو یوه لاتری واخلي.

لومړی جایزه د € 100 یو ارزښتلري، دویم د € 25 دریم د € 10 .

هر یو چې دا درجې یې ونه وځي یو د خوښی ارزښت € 1 اخلي.

دا لاتري باید څومره ګرانه وي، چې اخستنې او ورکونې برابرې وي؟

هره لاتري په € 5 خرڅیږي. دا خستلي پیسي یوې خریه ټولنې ته ورکولکیږي. دالاس ته راوړنه څومره لویه ده؟

تمرین :

یو مرتبان یو سور، یو تور او یو شین غونډاری خوندي لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر هغې د بېرته نه وراچونې سره یو غونډاری راوستل کیږي تر څو شین غونډاری ر ا ووستل شي.

که په لومړۍ وېستنه کې شین غونداری را ووېستل شي، نو د لوبې ګټنه € 2 ده.

که په دویمه وېستنه کې شین غونداری را ووېستل شي، نو د لوبې ګټنه € 1 ده.

که په دریمه وېستنهکې شین غونداری را ووېستل شي، نو د لوبې ګټنه € 0 ده.

شرط باېد څومره وي، چې دالوبه عادلاه وي؟

ځوابونه:

تمرین: په پورته معرفي شوې سترګي لوبه کې د انتظار ارزښت $E(X) = -1$ وو.

پس لوبه عادلانه نه ده.

د یوه لوبهکوونکی لپاره پیسې اینوونه باید څومره وي، چې دا لوبه عادلانه و بلل شي؟

د ګټې ورکونه دارزښت له امله برابره پاتې کیږي:
که هغه د شرط عدد را ونه ووځي،نو د پیسوورکونه € 0 ده.
که هغه د شرط عدد یو ځله را ووځي، نو د پیسو ورکونه(ګټونکي ته ) € 2 دي.
که هغه د شرط عدد دوه ځله را ووځي، نو د پیسو ورکونه(ګټونکي ته ) € 4 دي.
که هغه د شرط عدد درې ځله را ووځي، نو د پیسو ورکونه(ګټونکي ته ) .€ 6 دي.

حل(اوبی)

لوبه هلته عادلانه ده، چې په اوږده لید کې څومره پیسې چې لاس ته راځي همغومره باید بېرته ګټونکو ته ورکړي.

ددې لپاره د ګټونو ته ورکونې انتظار ارزښت شمېرو

$E(X) = 1$ په دې معنادی، چې په یوه اوږد لید یا موده کې په منځنۍ

| $x_i$ | $P(X = x_i)$ | $x_i \cdot P(X = x_i)$ |
|---|---|---|
| 0 | $\left(\frac{5}{6}\right)^3 = \frac{125}{216}$ | 0 |
| 2 | $3 \cdot \left(\frac{1}{6}\right) \cdot \left(\frac{5}{6}\right)^2 = \frac{75}{216}$ | $\frac{150}{216}$ |
| 4 | $3 \cdot \left(\frac{1}{6}\right)^2 \cdot \left(\frac{5}{6}\right) = \frac{15}{216}$ | $\frac{60}{216}$ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه € 1 د لوبې په سر ه ګټونو ته ورکړل شي.

د لوبې په سر د € 1 په شرط دا لوبه عادلانه ده

| | | |
|---|---|---|
| 6 | $\left(\frac{1}{6}\right)^3 = \frac{1}{216}$ | $\frac{6}{216}$ |
| | Erwartungswert $E(X)$ | $\frac{216}{216} = 1$ |

انتظارارزښت

**تمرين:** په لاتري لوبه کې هرلاتري ګټي.

د دولسم درس تمامېدو ( بکلوريا) جشنکې بايد هر يو له دې 50 برخه اخستونکو يوه لاتری واخلي.
لومړی جايزه د € 100 يو ارزښتلري، دويم د € 25 دريم د € 10 .

هر يو چې دا درجې يې ونه وځي يو د خوښی ارزښت € 1 اخلي.

دا لاتري بايد څومره ګرانه وي، چې اخستنې او ورکونې برابرې وي؟

هره لاتري په € 5 خرڅيږي. دا خستلي پيسې يوې خريه ټولنې ته ورکولکيږي. دالاس ته راوړنه څومره لويه ده؟

حل ( اوبی)

انتظار ارزښت شمېرل کيږي:

$E(X) = 3,64$ په دې معنا دی، چې بايد هره لاتري € 3,65 قيمت ولري
د € 5 لاترۍ قيمت او 50 خرڅ شوي د لاتري ټکټونه دا لاندې يوه ګټه خوندي لري:

$50(5 – 3,64) = 68$ €

دا پيسې خيريه ټولنې ته ځي.

| $x_i$ | $P(X = x_i)$ | $x_i \cdot P(X = x_i)$ |
|---|---|---|
| 100 | $\frac{1}{50}$ | $\frac{100}{50}$ |
| 25 | $\frac{1}{50}$ | $\frac{25}{50}$ |
| 10 | $\frac{1}{50}$ | $\frac{10}{50}$ |
| 1 | $\frac{47}{50}$ | $\frac{47}{50}$ |
| | Erwartungswert $E(X)$ | $\frac{182}{50} = 3,64$ |

انتظارارزښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



تمرین : یو مرتبان یو سور، یو تور او یو شین غونډارى خوندي لري.

تر هغي د بېرته نه وراچوني سره  یو غونډارى راوستل کيږي تر څو شین غونډارى را ووستل شي.

که په لومړى وېستنه کې شین غونډارى را ووېستل شي، نو د لوبې ګټنه € 2 ده.

که په  دویمه وېستنه کې شین غونډارى را ووېستل شي، نو د لوبې ګټنه € 1 ده.

که په  دریمه  وېستنهکې شین غونډارى را ووېستل شي، نو د لوبې ګټنه € 0 ده.

شرط باېد څومره وي، چې دالوبه عادلاه وي؟

حل :  د درې پوړيز ونې دیاګرام او تار قانو په مرسته  د دې لپاره احتمالوالى شمېرل کیږي،چې شین غونډارى راووځي.

د لاندې پېښتو: له کیڼ وښي لور ته: غورځونه، نتیجې، بایلنه




| Zug | Ergebnisse | P | Ausspielung X |
|---|---|---|---|
| 1 | (g) | $\frac{1}{3}$ | 2€ |
| 2 | (sg);(rg) | $\frac{1}{6}+\frac{1}{6}=\frac{1}{3}$ | 1€ |
| 3 | (srg);(rsg) | $\frac{1}{6}+\frac{1}{6}=\frac{1}{3}$ | 0€ |

$$E(X) = 2\cdot\frac{1}{3}+1\cdot\frac{1}{3}+0\cdot\frac{1}{3}=\underline{\underline{1}}$$

د لوبې پای انتظار ارزښت $E(X) = 1$ دى.

که دا یوه عادلانهلوبهوي، نو باید شرط هم € 1 وي.

پوښتنې

د ګڼلویا شکېرلوستراتیږي ته نمونه ازماېښت I

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی ـ یو تصادفی جنریټر ( د کود بیداکوونکی) یو له بل خپلواک 4 کورونه (څلور ارزښت ځایونه) له 0 تر 9 تولیدوي.

له تولېدوروسته دا ۴ – ځایز عدد په ځېر په دیسپلې راځرگندیږي. د لاندې پېښنو لپاره احتماوالی څومره دی؟

A : ټول ارزښتځایونه ناجوړه یا طاق دي.

B : فقط ارزښتځایونه 0 او 1 مخ ته راځي یا رامنځ ته کیږي.

C : عدد یو ،،هنداره شوی،، عدد دی، داپه دې معنا چې لومړی اواخر او همداسې دویم اودریم عددونه برابر دي.

په یوه کټوري کې ۶ سره او ۴ سپین غرندارۍ پراته دي. یو بل پسې ۵ غوډاري بې له بېرته وراچونې راوستل کیږي. د لاندې پېښنو احتمالوالی څومره لوي دی؟

A : سړی فقط سره غونډاري راباسي.

B : سړی لومړی ټول سبین بیا یو سور غونډاری راباسی.

C : لومړی غونډار ی سپین دی

D : سړی رد بدل سپین او سور ِغونډاری راباسي.

دریم – په یوه مرتبان کې25 په گڼه سمبال یا نمره شوې غونډاري ( له 1 تر25 عددونه)براته دي. د مرتبان څخه په همغه وخت کې4 غونډاري راوستل کیږي. د لاندې پېښې، لپاره احتمالوالی څومره لوي دی؟

A : ټو عددونه په ۵ وېوړدي .

B : ټول عددونه جوړه دي

C : د ۴ عددونو جمعه(زیاتون) له ۱۲ کوچنیدی.

D : د څلورو عددونو ضرب ۱۲ دی.

څلورم - څلور ملگري سینما ته ځي. دوی په یوه قطار کې څنک په څنک ۴ نمره شوي ځایونه لري او کارتونه تصادفي وېشي. د لاندې پېښنو احتمالوالی څومره لوي دی؟

A : س د وه د دوه ملگرو ترمنځ کیني B : س او ک دباندې لور ته کیني

(c) ketabton.com: The Digital Library



C : س ا ک ځنګ تر ځنګ کيني.

پنځم – په لوتو 6 له 49 څخه د 6, 5, 4, 3 ټيکو لپاره احتمالوالی احتمالوالی وټاکی او ستاسو د تګلار ډول تشريح کړۍ.

A: ۶ په لوتو کې ټيک دي : ۵ په لوتو کې ټيک دي.

ک ۴ په لوتو کې ټيکدي : ۳ په لوتو کې ټيکدي.

شپږم- د يوې غاړکۍ د اوبدلو لپاره سرې او شنې مرغلرې لرو. ۶ مرواري ( مرغلري) پيېل کيږي. د لاندې پيښو لپاره احتمالوالی څومره لوي دی، که رنګونه توکلي وټاکل شي؟

: سره مرغلره مخ ته نه راځي. : لومړې درې مرغلرې شنې دي.

: تل ردبدل سرې او شنې مرغلري منځ ته راځي.

اوم – د زيږدنې جشن کې د ۱۰ نجونو ترمنځ لومړۍ ، دويمه او دريمه جايزه ورکولکيږي. د لندې پيښو احتمالوالی څومره لوي دی؟

: ا يوه لوم ړۍ ي يوه دويمه او ک يوه وريمه جايزه ګټي.

: ا، ي، ک هر ه يوه يوه جايزه ګټي .

: ا جايزه نه ګټي

: له دې درې نجونو ا، ي او ک هيڅ يوه جايزه نه ګټي.

اتم – په يوه کورس کې د ۱۲ هلکانو او ۱۳ ترمنځ ۵ ازاد کاتونه وېشل کيږي. د دې لپاره په ۲۵ کاغ ټوټو د نجونو او هلکانو نومونه ليکل کيږي او ۵ ټوټه ماغونه توکلي راوستل کيږي. د کوم ا حتمالوالي سره (0 ,1 ,2 ,3 ,4) , 5 ازادې کارتي نجونو( هلکانو) ته راوځي؟

: نجونو ته ۵ کارتې راوځي : نجونو ته ۴ ازادې کارتې راوځي.

: نجونو ته ۳ ازادې کاتې راوځي. : نجونو ته ۲ ازادې کارتې راوځي

: نجونو ته يوه ازاده کارته راوحي. : نجونو ته ازاده کارته نه راوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهم – د یوې ازموینې لپاره ۱۰ ممکنه موضوعګانې ټاکی کیږي. پهازموینه کې له دې څخه درې په ازموینه کې ازمایل کیږي. یو ازموینی له موضوع فقط ۶ له ۱۰ پوښتنو زده کوي. د لاندې نتیجو لپاره احتمالوالی څومره لوي دی؟

: ازموینې له دې درز موضوعاتو یوې ته هم چمتووالی نه لریي

: ازموینی درې موضوعاتو څخه یوه زدهکوړې.

: ازموینې له درې څخه د دوه موعاتو لپاره لپاره چمتوالی لري.

: ازموینې ټولو ټاکلو دریو موضواتو تیاری نیولی یا چمتووالی لري.

ځوابونه

نمونه ازماېښت او د شمېرلو ستراتیږي I

مفصل ځوابونه

اول –

مودل : منظم نمونه ازماېښت د بېرته وراچوني سره.

د ټولو امکاناتو تعداد: د څلورځایونو هر یوه لپاره 10 امکاناتشتون لري ( له 0 تر 9 ) . له دې سره 10.000 عددونه انځورېدلای شي.

: ټول عددونه نجوړه دي .{ 9 ; 7 ; 5 ; 3 ; 1 } . د A لپاره امکانات $5^4$ دي.

له دې سره دی

$$t\,P(A) = \frac{5^4}{10^4} = \frac{1}{16} = 0{,}0625$$

د دې لپاره احتمالوالی ، چې ټول عددونه ناجوړه دي.

: فقط عددونه 0 او 1 مخ ته راځي. { 1 ; 0 }. د امکاناتو تعداد د B لپاره $2^4$ دی..

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې دی:
$$t\,P(B)=\frac{2^4}{10^4}=\frac{1}{625}=0{,}0016$$

د دې لپاره احتکالوالی، چې فقط عددونه 0 او 1 مخ ته راځي.

: فقط هداره شوي عددونه مخ ته راځي. [xy|yx] . لومړی او اخر عدد ازاد ټاکل کیږي، له دې څخه دواړه نور لاس ته راځي. د C لپاره د امکاناتو تعداد $10^2$ دی.

له دې سره
$$t\,P(C)=\frac{10^2}{10^4}=\frac{1}{100}=0{,}01$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې دابنوولی عدد(ګڼ) یو هنداره شوی عدد(ګڼ) دی.

دویم –

مودل: منظم نمونه ازماېښت د نه (بې له) بېرته وراچوني سره.

۶ سره او ۴ سپین غونډاري n = 10 غونډاري راکوي. k = 5 ځله راوستل کیږي،بې له بېرته ور اچوني سره.

له دې سره د د امکاناتو تعداد $\frac{n!}{(n-k)!}=\frac{10!}{5!}=30.240$ دی.

: فقط سره غونډاري راوستل کیږي.

د A لپاره د راوستلو د ا مکاناتو تعداد دی $\frac{6!}{1!}=720$ :

او له دې سره دی:
$$P(A)=\frac{720}{30.240}=\frac{1}{42}\approx 0{,}0238$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې فقط سره غونډاري راوستل کیږي.

: سرې لومړی ټول سپین غونډاري راباسي او بیا یو سور غونډاری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د B لپاره د راوستنو امکانات دي: $\frac{4!}{0!}\cdot\frac{6!}{5!}=4!\cdot 6=144$

او له دې سره : $P(B)=\frac{144}{30.240}=\frac{1}{210}\approx 0{,}00476$ :

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې لومړی ټول سپین غنډاري راوځي او بیا یو سور غنډاری راوځي.

: لومړی غونډاری سپین دی( دا به دې معنا چې .4 ,.3 ,.2 او 5 غونډاري په خوښه دي).

د C لپاره د امکاناتو تعداد دی $4\cdot 9\cdot 8\cdot 7\cdot 6=12.096$ :

له دې سره: $P(C)=\frac{12.096}{30.240}=\frac{2}{5}=0{,}4$ :

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې په لومړی راوستنه کې سپین غونډاری راوځي.

: سړی رد بدل سبي او سور غنډاری راباسي (wrwrw) یا (rwrwr) .

د D لپاره د امکاناتو تعداد دی:

$$4\cdot 6\cdot 3\cdot 5\cdot 2+6\cdot 4\cdot 5\cdot 3\cdot 4=2160$$

او له دې سره : $P(D)=\frac{2160}{30.240}=\frac{1}{14}\approx 0{,}0714$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې ردبدل سبین او سره غونډاري راوستل کیږي.

دریم – مودل : نامنظم نمونه ازماېښت بې له بېرته وراچوني .
یا په یو ځل راوستنه.
دا پر ۵ وېشوني عددونه دي : 5, 10, 15, 20, 25
د دې لپاره د امکاناتو تعداد له ۲۵ غونډارو څخه چې ۴ غونډاري وباسو دی:

$$\binom{25}{4}=\frac{25\cdot 24\cdot 23\cdot 22}{4\cdot 3\cdot 2\cdot 1}=25\cdot 23\cdot 22=12.650$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د ټولو امکاناتو تعداد دی.

A : ټول عددونه په ۵ وېشوړدي:

د په ۵ وېشوړ عددونو تعداد(ګڼونو ګڼون) ۵ دی.

Alle Zahlen sind durch 5 teilbar.

د امکاناتو تعداد چې لهدې څخه ۴ وټاکو دی:

$$\binom{5}{4} = \frac{5 \cdot 4 \cdot 3 \cdot 2}{4 \cdot 3 \cdot 2 \cdot 1} = 5$$

دا د A د رامنځ ته کېدلو لپاره د امکاناتو تعداد دی. له دې سره

$$P(A) = \frac{\binom{5}{4}}{\binom{25}{4}} = \frac{5}{12650} = \frac{1}{2530} \approx 0{,}000.395$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې ۴ عددونه راوباسو، چې په ۵ وېشوړ وي.

B : ټول عددونه چوه دي.

جوړه عددونه دي: 2, 4, 6, 8, 10, 12, 14, 16, 18, 20, 22, 24

د جوړه عددونوتعداد (ګڼون) ۱۲ دی.

د دې لپاره د احتمالوالي تعداد ، چې له دې څخه ۴ راباسو دی:

$$\binom{12}{4} = \frac{12 \cdot 11 \cdot 10 \cdot 9}{4 \cdot 3 \cdot 2 \cdot 1} = 495$$

دا د B د رامنځ ته کېدولپاره د امکاناتو تعداد دی. له دې سره دی:

$$P(B) = \frac{\binom{12}{4}}{\binom{25}{4}} = \frac{495}{12650} = \frac{99}{2530} \approx 0{,}0391$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې ۴ جوړه عددونه راو وستل شي یا راوباسل شي.

C : د دې څلور عددونو جمعه(زیاتون) له 12 کوچنۍ ده:.

$$1 + 2 + 3 + 4 = 10 < 12$$

$$1 + 2 + 3 + 5 = 11 < 12$$

د پېښې C لپاره فقط دوه امکانات شتون لري. له دې سره

$$P(C) = \frac{2}{\binom{25}{4}} = \frac{2}{12650} = \frac{1}{6325} \approx 0{,}000.158$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې ۴ عددونه راوباسل شي، چې جمعه یې له 12کوچنۍ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



D : د دې ۴ عددونو ضرب 12 دی.

د D لپاره د امکاناتو تعداد دی: $4\cdot6\cdot3\cdot5\cdot2+6\cdot4\cdot5\cdot3\cdot4=2160$

د دې سره دی: $P(D)=\frac{2160}{30.240}=\frac{1}{14}\approx0{,}0714$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې ۴ عددونه راوه وستل شي، چې د هغو ضرب 12 وي.

څلورم – مودل : دk توکو نظم

د امکاناتو تعدادچې ۴ کسان په څلوروځایونو ووېشو !4 دی.

: س د دوه ملګرو تر منځ کيني.

هغه دوه امکانات لري: xSxx یاxxSx ( دويم ځای یا دريم ځای )

درې ملګر ي !3 امکانات لري.

له دې سره د امکاناتو تعداد د A لپاره 12 = !2.3 دی.

له دې سره دی

$$P(A)=\frac{12}{24}=\frac{1}{2}=0{,}5$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې س او ک د دوه ملګرو ترمنځ کښيني.

B : س او ک دباندې لورو ته کيني.

SxxK یا KxxS س او ک دوه امکانات لري، دا دوه نور ملګري هم.

د دې سره د B لپاره امکانات 2.2=4 دي.

له دې سره

$$P(B)=\frac{4}{24}=\frac{1}{6}=0{,}1\overline{6}$$
.

د دې لپاره امکانات دي، چې س او ک د څنګونو لور ته کېني.

C: س او ک يو د بل ترڅنګ کېني.

SKxx KSxx xSKx xKSx xxSK xxKS دا ۶ امکانات دي

.

د نورو داړو لپاره ۲ امکانات شتون لري.

له دې سره د C لپاره د امکاناتو تعداد 6.2=12 دی.

له دې سره

$$P(C)=\frac{12}{24}=\frac{1}{2}=0{,}5$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې س او ک يو د بل ترڅنګ کېني.

پنځم – مودل : نامنظمې نمونه ازماېښتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا په يوه وار وستنه
د دې لپاره امکانات په يوه ځل له چې له ټولټال49 عددونو څخه چې 6 عددونه چليپا شي دی:

$$\binom{49}{6} = \frac{49 \cdot 48 \cdot 47 \cdot 46 \cdot 45 \cdot 44}{6 \cdot 5 \cdot 4 \cdot 3 \cdot 2 \cdot 1} = 13.983.816$$

A : په لوټو کې ۶ ټيک ياپه ربنتيا راوځي.
د دې لپاره د امکاناتو تعداد چې ۶ عددونه له ۶ ګټونکو عددونو څخه چليپا شي او 0 عدونه له 43 نا ګټونکو عددونو څخه دي دی:

$$\binom{6}{6} \cdot \binom{43}{0} = 1 \cdot 1 = 1$$

.
دا د A د رامنځ ته کېدو لپاره د امکاناتو تعداد دی.
له دې سره لرو:

$$P(A) = \frac{\binom{6}{6} \cdot \binom{43}{0}}{\binom{49}{6}} = \frac{1}{13.983.816} \approx 0{,}000.000.072$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې ۶ ګټونکي عددونه چليپا شوي دي. ( ۶ ګټونکي)
B : په لوټو کې ۵ ټيک
له ټول ۶ ګټونکو عددونو څخه د ۵ عددونو ټيک چليپاکېدنه او چې ۱ عدد له 43 څخه ناګټونکی عدد دی چليپا نه شي ، د امکاناتو تعداد دی:

$$\binom{6}{5} \cdot \binom{43}{1} = 6 \cdot 43 = 258$$

دا د B لپاره د رامنځ ته کېدو د امکاناتو تعداد دی.
له دې سره لرو:

$$P(B) = \frac{\binom{6}{5} \cdot \binom{43}{1}}{\binom{49}{6}} = \frac{258}{13.983.816} \approx 0{,}000.0185$$

دا د دې لپاره احتمالوالی دی، چې ۵ ګټونکي عددونه ]ليپا شوي( ۵ ټيک).
C : په لوټو کې ۴ ټيک
د دې لپاره دامکاناتو تعداد، چې دټولو ګټونکو ۶ عددونو څخه ۴ ګټونکي عددونه چليپا شي او ۲ عددونه له ۴۳ عددونو چليپا نه شي دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\binom{6}{4}\cdot\binom{43}{2}=\frac{6\cdot5\cdot4\cdot3}{4\cdot3\cdot2\cdot1}\cdot\frac{43\cdot42}{2\cdot1}=13545$$

دا د C لپاره د رامنځ ته کېدو امکاناتو تعداد دی.

له دې سره

$$P(C)=\frac{\binom{6}{4}\cdot\binom{43}{2}}{\binom{49}{6}}=\frac{13545}{13.983.816}\approx 0,000.969$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې ۴ ګټونکي عددونه چليپا شوي دي( ۴ ټيک)

D : په لوتو کې ۳ ټيک

د دې لپاره دامکاناتو تعداد، چې دټولو ګټونکو ۶ عددونو څخه ۳ ګټونکي عددونه چليپا شي او ۳ عددونه له ۴۳ عددونو چليپا نه شي دی:

$$\binom{6}{3}\cdot\binom{43}{3}=\frac{6\cdot5\cdot4}{3\cdot2\cdot1}\cdot\frac{43\cdot42\cdot41}{3\cdot2\cdot1}=246.820$$

دا د D د رامنځ ته کېدو لپاره د امکاناتو تعداد دی،

له دې سره

$$P(D)=\frac{\binom{6}{3}\cdot\binom{43}{3}}{\binom{49}{6}}=\frac{246.820}{13.983.816}\approx 0,0177$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې ۳ ګټونکي عددونه چليپا شي( ۳ ټيک)

شپږم – مودل : منظم نمونه ازماېښت د بېرته وراچونې سره

د رنګ ټاکنه توکلي ده، دا په دې معنا، چې هر رننګ برابر احتمال لري.

د هرې مرغلرې لپاره درې رنګه په اختيار کې دي،

له دې سره د امکاناتو تعداد $3^6 = 729$ دی.

A: سره مرغلره مخ ته نه راځي. د امکاناتو تعداد چې فقط دوه رنګه راوه وستل شي دی:

$2^6 = 64$

د A لپاره د امکاناتو تداد دی: $2^6 = 64$

له دې سره

$$:P(A)=\frac{64}{729}\approx 0,0878$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لپاره احتمالوالی دی، چې کومه مر غلره سره نه ده.
B: لومړۍ درې مرغلرې شنې دي.
له دې سره احرنۍ درې په خوښه ټاکل کېدی شي.
نو يو امکان د ggg لپاره او $3^3$ امکانات د نورودريو لپاره .
د B لپاره د امکاناتو تعداد دی:27= $1.\ 3^3$
له دې سره

$$t\ P(B) = \frac{27}{729} = \frac{1}{27} \approx 0{,}0370$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې مرغلرې رد-بدل سرې او شنې دي.
C: مرغلرې رد-بدل سرې او شنې دي.
د دې لپاره دوه امکانات rgrgrg ياgrgrgr شتونلري.
د C لپاره د امکاناتو تعداد ۲ دی.
له دې سره

$$t\ P(C) = \frac{2}{729} \approx 0{,}00274$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې مرغلرې ردبدل سرې او شنې دي.
اوم – مودل : منظم نمونهازماېښت د نه ( بې) بېرته وراچولو سره
د ټولو امکاناتو تعداد دی:

$$10 \cdot 9 \cdot 8 = 720$$

A: ا ( لومړې جايزه) اي ( دويمه جايزه)، ک ( دريمه جايزه) .
د A لپاره د امکاناتو تعداد دی: ۱

$$P(A) = \frac{1}{720} \approx 0{,}00139$$

له دې سره دی:
د دې لپاره احتمالوالی دی، چې ا لومړۍ جاېزه، اي دويمه جايزه او ک دريمه جايزه ګټي.
B: ا، اي اوک هر يو يوهجاېزه ګټي.
د B لپاره د امکاناتو تعداد6 = !3 دی.
له دې سره

$$P(B) = \frac{6}{720} = \frac{1}{120} \approx 0{,}00833$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې ا، اي او ک هر يوه =اېزه ګټي.
C: ا جاېزه نه ګټي. د C لپاره احتمالوالی دی: 9.8.7
له دې سره

$$t\ P(C) = \frac{9 \cdot 8 \cdot 7}{720} = \frac{7}{10} = 0{,}7$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لپاره احتمالوالی دی، چې ه جاېزه نه ګټي

D: له دې درې نجونو څخه کونه یوه جاېزه نه ګټي.

د D لپاره احتمالوالی دی:

له دې سره

$$P(D) = \frac{210}{720} = \frac{7}{24} = 0,293$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې له دې درې نجونو څخه کومه یوه جاېزه نه ګټي.

7.6.5 = 210

اتم -

مودل : نامنظم نمونه ازماېښت بې لهبېرته وراچونې.

یا پخ یوه ځل راوستنه.

د امکاناتو تعداد چې ۵ پاڼې له ټولو ۲۵ پاڼو څخه راوباسو دی:

$$\binom{25}{5} = \frac{25 \cdot 24 \cdot 23 \cdot 22 \cdot 21}{5 \cdot 4 \cdot 3 \cdot 2 \cdot 1} = 53.130$$

A: ۵ پاڼې نجونو ته ځي (0 پاڼې هلکانوو ته)

د دې لپاره د امکاناتو تعداد چې ۵ پاڼې له ټولو ۱۳ پاڼو د نجونو د نومونو سره راووځي او0 پاڼې له ټولو ۱۲ پاڼو د هلکانو په نامه راووځي دی.:

$$\binom{13}{5} \cdot \binom{12}{0} = \frac{13 \cdot 12 \cdot 11 \cdot 10 \cdot 9}{5 \cdot 4 \cdot 3 \cdot 2 \cdot 1} \cdot 1 = 1287$$

دا د A د منځ ته راتګ لپاره د امکاناتو تعداد دی.

له دې سره

$$P(A) = \frac{\binom{13}{5} \cdot \binom{12}{0}}{\binom{25}{5}} = \frac{1287}{53130} \approx 0,0242$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې ټولې ۵ ازاد ټکټونه نجونو ته ورکول کېږي

B: ۴ ټکټونه نجونو ته وځي( ۱ ټکټ هلکانو ته).

د امکاناتو تعداد چې له ټولو ۱۳ کارتو څخه ۴ کارتې دد نجونوو پهنامه راووځي او ۱ ټکټ له ټولو ۱۲ ټکټونو څخه د هلکانو په نامه را ووځي دی:

$$\binom{13}{4} \cdot \binom{12}{1} = \frac{13 \cdot 12 \cdot 11 \cdot 10}{4 \cdot 3 \cdot 2 \cdot 1} \cdot 12 = 8580$$

دا د B د رامنځ ته کېدو لپاره د امکاناتو تعداد دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې سره

$$P(A)=\frac{\binom{13}{4}\cdot\binom{12}{1}}{\binom{25}{5}}=\frac{8580}{53130}\approx 0,161$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې ۴ ازاده کارتې یا مفتې کارتې نجونو ته او ۱ ازاده کارته هلکانو ته رسیږي.

C: ۳ کارتې نجونو نجونو ته رسيږي( ۲ هلکانوو ته)

د ا مکاناتو تعداد چې ۳ پاڼې له ټولټال ۱۳ پاڼو د نجونو د نومونو سره را وه وستل شي او ۲ پاڼې د ټولټال ۱۲ پاڼو د هلکانو د نامه سره را باسل شي دی: :

$$\binom{13}{3}\cdot\binom{12}{2}=\frac{13\cdot 12\cdot 11}{3\cdot 2\cdot 1}\cdot\frac{12\cdot 11}{2\cdot 1}=18867$$

دا د C د رامنځ ته کېدولپاره د امکاناتو تعداد دی.

له دې سره

$$P(C)=\frac{\binom{13}{3}\cdot\binom{12}{2}}{\binom{25}{5}}=\frac{18876}{53130}\approx 0,355$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې ۳ ازاده یا مفتې کارتې نجونو ته او دوه ازادې کارتې هلکانو ته ورکولکیږي.

D: ۲ پاڼې نجونو ته ورکولکيږي(۳ همکانو ته )

د امکاناتو تعداد چې ۲ کارتې له ټولټال ۱۳ کارتو د نجونو نومونو سره را ووځي او ۳ پاڼې له ټولټال ۱۲ پاڼو څخه د هلکانو نومونو سره راووستل شي دی:

$$\binom{13}{2}\cdot\binom{12}{3}=\frac{13\cdot 12}{2\cdot 1}\cdot\frac{12\cdot 11\cdot 10}{3\cdot 2\cdot 1}=17160$$

دا د D د رانمنځ ته کېدو لپاره د امکاناتو تعداد دی.

له دې سره

$$P(D)=\frac{\binom{13}{2}\cdot\binom{12}{3}}{\binom{25}{5}}=\frac{17160}{53130}\approx 0,323$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لپاره احتمالوالی دی، چې ۲ مفتې کارتې نجونو او ۳ مفتې کارتې هلکانو ته په لاس ورځي.

E: د امکاناتو تعداد چې ۱ کارته له ټولټال ۱۳ کارتو د نجونو په نامه راوځي او ۴ کارتې له ټولټال ۱۲ کارتو څخه د هلکانو په نامه راوځي دي:

$$\binom{13}{1}\cdot\binom{12}{4}=13\cdot\frac{12\cdot 11\cdot 10\cdot 9}{4\cdot 3\cdot 2\cdot 1}=6435$$

دا د E د رامنځ ته کېدو لپاره دامکاناتو تعداد دی.
له دې سره

$$P(E)=\frac{\binom{13}{1}\cdot\binom{12}{4}}{\binom{25}{5}}=\frac{6435}{53130}\approx 0{,}121$$

د دې لپاره احتمالوالیدی، چې ۱ ازاده کارته نجونه ګټي او ۴ ازاده کارتې همکانو ته ځي.

F: 0 پانه نجونو ته ورکول کیږي( ۵ هلکانو ته )
د دې لپاره احتمالوالی چې 0 پانه له ټولټال ۱۳ پاڼو څخه د نجونو په نامه راوځي او ۵ پاڼې له ټولټال ۱۲ پاڼو څخه دهلکانو په نامه راوځي دی:

$$\binom{13}{0}\cdot\binom{12}{5}=1\cdot\frac{12\cdot 11\cdot 10\cdot 9\cdot 8}{5\cdot 4\cdot 3\cdot 2\cdot 1}=792$$

دا د F د رامنځ ته کېدو لپاره د امکاناتوتعداد دی.
له دې سره

$$P(F)=\frac{\binom{13}{0}\cdot\binom{12}{5}}{\binom{25}{5}}=\frac{792}{53130}\approx 0{,}0149$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې 0 ازاده کارتې نجونو ته او ۵ ازاده کارتې هلکانو ته ځي یا ورکول کیږي.

نهم – مودل: نامنظم نمونه ازماېښت د نه(بې) بېرته وراچولو سره.
یا دیوه وار سره راوستنه ۱۰ ممکنه موضوعات، ۳ پوښتل کیږي، ازمویېنې د ازمویني لپاره ۶ پوښتنې زده کوي. د دې لپاره د امکاناتو تعداد چې له ۱۰ پوښتنو څخه ۳ وټاکل شي دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$\binom{10}{3}=\frac{10\cdot 9\cdot 8}{3\cdot 2\cdot 1}=120$$

A: ازمویېږني له دې ۳ ټاکلو موضوعاتو څخه کومې ته تیاری نه دی نیولی. له ۴ موضوعاتو څخه، کومو ته چې ازمویني ځان نه دی چمتو کړی، درې ټاکل کیږي:

د A لپاره دامکاناتو تعداد دی:

$$\binom{4}{3}=4$$

.

له دې سره

$$P(A)=\frac{4}{120}=\frac{1}{30}=0{,}0\overline{3}$$

د دې لپاره ا حتمالوالی دی،چې، چې ازمویېنی کومې موضوع ته چمتووالی نهلري.

B: ازمویېني له دې درې ټاکلو موضواتو څخه یوې ته ځان چمتو کړی. له ۴ موضواتو څخه چې ازمویېني ورته ځان نه دی جمتو کړی، ۲ ټاکل کیږي، له ۶موضواتو څخه کومو ته چې ازمویېني ځان چمتو کړی ۱ موضوع ټاکل کیږي

د B لپاره د امکاناتو تعداد دی:

$$\binom{4}{2}\cdot\binom{6}{1}=\frac{4\cdot 3}{2\cdot 1}\cdot\frac{6}{1}=36$$

له دې سره

$$P(B)=\frac{36}{120}=\frac{3}{10}=0{,}3$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې ازمویېني ځان د ۱ موضوع لپاره چمتو کړی دی.

C: ازمویېنیي له درې ټاکلو موضوعاتو څخه د ۲ موضوعاتو لپاره ځان چمتو کړی.

له ۴ موضوعاتو څخه، چې ازمویېني ځان نهدی چمتو کړی، ۱ ټاکل کیږي، له ۶ موضوعاتو چې ځان یې ورته چمتو کړی ۲ موضوعات ټاکل کیږي.

دC لپاره دامکاناتو تعداد دی:

$$\binom{4}{1}\cdot\binom{6}{2}=\frac{4}{1}\cdot\frac{6\cdot 5}{2\cdot 1}=60$$

له دې سره

$$P(C)=\frac{60}{120}=\frac{1}{2}=0{,}5$$

د دې پاره احتمالوالی دی، چې ازمویېني د ۲ موضوعاتو لپاره ځان چمتو کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



D:  ازموېښني ځان ټولو ۳ موضوعات ته چمتو کړی. له ۴ موضواتو چې ازموېښني ورته ځان نه دی  نه دی چمتو کړی  0 ټاکل کیږي، له ۶ موضوعاتو چې ازموېښني ورته ځان چمتو کړی  ۳ موضوعات ټاکل کیږي.

د D  لپاره د امکاناتو تعداد دی:

$$\binom{4}{0}\cdot\binom{6}{3}=1\cdot\frac{6\cdot5\cdot4}{3\cdot2\cdot1}=20$$

له دې سره

$$P(C)=\frac{20}{120}=\frac{1}{6}\approx 0{,}1\overline{6}$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې ازموېښني ټولو ۳ موضوعاتو ته ځان چمتو کړی.

## پوښتنې

نمونه ازماېښت او د شمیرلو ستراتیژي II

لومړی – د زرندو د  تورو او سپینو  تیګو څخه برجونه جوړیږي، چې په هغو کې  اته تیږې یو په بل کېښول کیږی. د لاندې پېښو لپاره احتمالوالی څومره لوي دی، که رنګ توکلی وټاکل شي؟

A   :  ټولې تیګی همغه  یا برابر رنګ لري.

B: فقط یوه تیږه سپینه ده.

C: لوم ړۍ او اخرنی تیګه همغه ر نګ لري.

دویم - په یوه خلته کې یو سور، ۲ شنه، ۳ زیړ او ۴ نسواري چاکلېټ پراته دي. یو کس درې چاکلېټ ترې را اخلي. د لاندې پېښو لپاره احتمالوالی څومره لوي دی؟

A: ټیک یو شین چاکلېټ راوستل کیږي.

دریم – په یوه خریه غونده کې ۵ نمرې  اختیار کې لرو، لهد ېڅخه یوه د ژونګلیوالا نمره ( هغه څوک چې د غونداریا غونډوسکو غورځولو سره سر او کار لري) . د پروګرام لړۍ پرلپسې  تصادفي راباسي. د لاندې پېښو احتمالوالی څومره لوي دی؟

A:  ژودنګلیوال  د پروګرام په دریم قطار کې راځي.

B:ژونګلیوال اخر  ځای کې نه راځي.

څلورم – په یوه کارتون کې ۱۰ بریښنا څراغونه دي، =ې له دوی څخه دوه زانمنې دي. د لاندې پېښو لپاره احتمالوالی څومره لوي دی، که بریښنا څراغونه په ،،پټو سترګو،، راوستل شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



A:  ټول درې څراغونه چوړ دي.
B: تیک یو ځراغ زیانمن دی.
C:  تیک دوه ځراغونه زیانمن دي.

پنځم – احتمالوالی څومره لوي دی، که د ۸ کسانو څخه لږ ترلږه دوه په همغه میاشت کې د زیږېدو نیټه ولري؟ په نږدې توګه ونیسی، چې ټولې میاشتې برابرې اوږدې دي.
A:  لږ تر لږه دوه له ۸ کسانو په همغه میاشت کې د زیږېدو نیټه لري.
شپږم – په یوه مرتبان کې ۶ سره ، ۵ اسماني او ۴ شنه غونډاري پراته دي. درې غونډاري په یوه ځل راوستل کیږي. د لاندې پېښنو لپاره احتمالوالی څومره لوي دی؟
A: دوه شنه غونډاري راوستل کیږي
B:  په راوستلو غونډاروکې شنهغونډاري نه شته.
اوم –په بیلګه کې،، بیت المقدس ته سفر،، کې په هره دوره کې یو کس له منځه وځي. په لوبه ( پچه اچولو) کې ۱۰ کسان ونډه لري. د لاندې پېښنو احتمالوالی وټاکئ.
A: ل اخر ته پاتیږي
B:  ا او و اخرنی پچه کې دي.
اتم – په یوه ډېر تاکنیزه ازموینه کې ۱۰ پوښتنې د هر درې ممکنه ځوابونو سره لرو، چې له هغو هر یوه څخه فقط یو ټیک دی. یو کس د تصادف اصولو له مخه د هر ځواب لپاره توکلي د هرې پوښتنې لپاره ي، ځای چلیپا کوي. د لاندې پېښنو لپاره احتمالوالی څومره لوي دی؟
A: ټول ځابونه ناټیک دي.
B: لومړي پنځه ټیک ، اخرني پنځه ناټیک چلیپا شوي دي.
C: په دقیقه توګه نیمايي ځوابونه ټیک دي.
D: ۴ ځوابونه ټیک دي، ۶ ناټیک دي.
نهم – د لغات ANANAS توري په یوه لوښي کې ګډوډیږي او نوي تنظیمیږي. د لاندې پیښنو، احتمالوالی څومره لوي دی؟
A: بېرته دا لغات ANANAS منځ ته راځي.
B:  د تور کمبینېشن د AAA سره پیل کیږي.
C:  یو لغات د دریواره A سره یو په بل پسې منځ ته راځي.

## ځوابونه

نومنه ازماېښت او د شمېرلو ستراتیژيII
مفصل ځوابونه
لومړی – مودل : منظم نمونه ازماېښت د بېرته وراچونې سره
د هر اتو تیګر لپاره دوه رنګونه اختیار کې لرو( اته ځله راوستنه د بیرته وراچونې سره )
.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټولو رنګونو کمبینیشن امکاناتو تعداد دی : $2^8 = 256$

A: ټولې اته تیګې همغه رنګ لري. دا په دې معنا چې یا ټولې توري دې یا ټولې سپینې دي.

دA لپاره د امکاناتو تعداد۲ دی.

له دې سره

$$: P(A) = \frac{2}{256} = \frac{1}{128} \approx 0,00781$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې ټولې تیګې برابر رنګ لري.

B: فقط یوه تیګه سپینه ده. داچې دا تیګه یه دې اته ځایونو کې هرځای ایښودله کیدی شي، د دې لپاره اته امکانات شتون لري.

د B لپاره د امکاناتو تعداد دی: ۸

$$P(B) = \frac{8}{256} = \frac{1}{32} = 0,03125$$

له دې سره

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې له اته تیګو فقط یوه سپینه ده.

C: لومړۍ او اخره تیګه همغه رنګ اري. د اخرې او لومړۍ تیګې لپاره ۲ امکانات شتون لري. یا دواړه سپینې یا دواړه توري دي. د پاتې ۶ تیګو لپاره ۲۶ امکاناته شتون لري.

د لپاره د امکاناتو تعداد دی: $2 \cdot 2^6 = 2^7 = 128$

له دې سره

$$P(C) = \frac{128}{256} = \frac{1}{2} = 0,5$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، لومړۍ تیګه او اخره همغه رنګ لري.

دویم – مودل: نامنظم نمونه ازماېښت د نه بېرته وراچوني سره.

د دې لپاره امکانات چې له خلتې څخه ۳ چکلیټ له ټولټال لسو چکلیټو څخه را وستل شي، دی:

$$\binom{10}{3} = \frac{10 \cdot 9 \cdot 8}{3 \cdot 2 \cdot 1} = 120$$

A: تیک یو شین چکلیټ راوستل کیږي.

د دې لپاره د امکاناتو تعداد +ې ۱ سین چاکلیټ له ټولټال ۲ شنو چکلیټو څخه راوه وىستل شي او ۲ چکلیټ له ۸ بل رنګ څخه راووستل شي دی:

$$\binom{2}{1} \cdot \binom{8}{2} = 2 \cdot \frac{8 \cdot 7}{2 \cdot 1} = 56$$

دا د A د رامنځ ته کېدو لپاره د امکاناتو تعداد دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې سره

$$P(A)=\frac{\binom{2}{1}\cdot\binom{8}{2}}{\binom{10}{3}}=\frac{56}{120}=\frac{7}{15}\approx 0,467$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې تیک ۱ شین چکلېټ راوه وېستل شي.
دریم - A: د ژدنګلوېر نمره په دری ځای کې قرار لري.
xxJxx . د پچې اچولو له مخې ژونګلوېر کېدی شي په هره خوښه ځای کې راشي.
مودل: مرتبان له ۵ غونډارو سره چې له ۱ تر ۵ په ګڼه شوي(نمره شوي)

عددونه ځایونه ورکوي، په کومو کې د ژونګلور پروګرام ځای شوی، ي، ځل راوستنه په پروګرام کې ځای ټاکي، په کوم کې چې ژونګلوېر راځي.
له دې سره

$$:P(A)=\frac{1}{5}=0,2$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې ژونګلوېر په دریم ځای کې راځي. دې سره برابر االحتمالوالي سره به به هر بل په خوښه ځای کې هم راغلی وی.
B: د دژونګلوېر لوبنمره په اخر کې نه ده. دا په دې معنا چې، داکېدی شي په .3 ,.2 ,.1 یا 4 ځای کې قرار ولري. د احتمالوالي لپاره د جمعې جملې له مخې باور لري:
له دې سره

$$t\,P(B)=\frac{1}{5}+\frac{1}{5}+\frac{1}{5}+\frac{1}{5}=\frac{4}{5}=0,8$$

د دې لپاره احتمالوالی دی،، چې ژودګلوېر په اخر ځای کې نه راځي.
څلورم – مودل: نامنظم نمونه ازماېښت د نه بېرته وراچوني سره.
$n = 10$ برېښنا څراغونه ، له دې څخه ۲ زیانمن دي، ۳ څراغونه توکلي راوستل کیږي. د امکاناتو تعداد چې له یوه کارتون له ۱۰ څراغونو څخه توکلي درې راوباسو یا وټاکو دی:

$$\binom{10}{3}=\frac{10\cdot 9\cdot 8}{3\cdot 2\cdot 1}=120$$

A:ټول درې څراغونه جوړ دي. دامکاناتو تعداد له اته جوړو څخه درې جوړ وټاکو ۳ له اتو دی.
د لپاره دامکاناتو تعداد له دې سره دی.

$$A:\binom{8}{3}=56$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې سره

$$P(A) = \frac{56}{120} = \frac{7}{15} \approx 0,4\bar{6}$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې درې روغ څراغونه تاکل کیږي.

B: تیک یو څراغ زیانمن دی. له اتو روغو څراغونو ۲ او له ۲ زیانمنو څراغونو ۱ زیانمن راوستل کیږي.

د B لپاره د امکاناتو تعداد دی:

$$\binom{8}{2} \cdot \binom{2}{1} = \frac{8 \cdot 7}{2 \cdot 1} \cdot 2 = 56$$

له دې سره

$$P(B) = \frac{56}{120} = \frac{7}{15} \approx 0,4\bar{6}$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې له درې راوستلو څراغونو څخه ۱ زیانمن دی.

C: تیک دوه څراغونه زیانمن دي. له اتو روغو څراغونو څه ۱ او له ۲ زیانمنو څراغونو څخه ۲ څراغونه راوستل کیږي.

دC لپاره د امکاناتو تعداد دی:

$$\binom{8}{1} \cdot \binom{2}{2} = 8 \cdot 1 = 8$$

له دې سره

$$P(C) = \frac{8}{120} = \frac{1}{15} \approx 0,0\bar{6}$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې له درې راوستل شوو څراغونو ۲ زیانمن دي.

xx:D

پنځم – مودل : منظم نمونه ازمايښت د بيرته وراچونې سره.

د دې لپاره دامکاناتو تعداد ۸ کسان په ۱۲ میاشتو وه وېشو $12^8$ دی( له یوه مرتبان څخه چې ۱۲ مختلف غونداري لري د بېرته وراچونې سره راوستنه ).

A: له ۸ مسانو څخه هلږ ترلږه ۲ مسان په همغه میاتکې د زېږېدنې روځ لري. دA په برعکس پيښنه ده، چې ټول ۸ کسان په بېلا بېلو میاشتوکې د زېږدنې روځ لري. اوس ۸ کسان په ۱۲ میاشتو داسې وېشل کیږي، چې دوه والی یا ډېلوالی منځ ته نه راځي.

له دې سره د $\overline{A}$ لپاره د امکاناتو تعداد دی:

$$12 \cdot 11 \cdot 10 \cdot 9 \cdot 8 \cdot 7 \cdot 6 \cdot 5$$

له دې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$P\left(\overline{A}\right)=\frac{12\cdot 11\cdot 10\cdot 9\cdot 8\cdot 7\cdot 6\cdot 5}{12^8}\approx 0{,}0464$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې ټول اته کسان په مختلو یاشتو کې د زیږېدنې روح لري.

$$P(A)=1-P\left(\overline{A}\right)=1-\frac{12\cdot 11\cdot 10\cdot 9\cdot 8\cdot 7\cdot 6\cdot 5}{12^8}\approx 0{,}954$$

د دې لپارهاحتمالوالی دی،چې له اته کسانو ۲ په همغه میاشتکې زیږېدلي دي یا د زیږېدوروځ لري.

شپږم –

نامنظم نمونه ازماېښت د نه بیرته وراچونې سره.

یاپه یوه ځل راوستنه.

د دې لپاره احتمالوالی چې په مرتبان کې له ټولټال ۱۵ غونډارو څخه ۳ غونډاري را وه وېستل شي دی:

$$\binom{15}{3}=\frac{15\cdot 14\cdot 13}{3\cdot 2\cdot 1}=455$$

A : ټیک دوه شنه غونداري راوستل کیږي.

د دې لپاره دامکاناتو تعداد ۲ شنه غونداري له ټولټال ۴ غونډارو راوه وستل شي او ۱ بل رنګه له ټولټال ۱۱ نورو رنګونو را وه وستل شي دی:

$$\binom{4}{2}\cdot\binom{11}{1}=\frac{4\cdot 3}{2\cdot 1}\cdot 11=66$$

دا دA پیښېدنې لپاره د امکاناتو تعداد دی.

له دې سره

$$P(A)=\frac{\binom{4}{2}\cdot\binom{11}{1}}{\binom{15}{3}}=\frac{66}{455}\approx 0{,}145$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، ټیک دوه شنه غونډاري راوستل کیږي.

B: شین غونډاری نه راوستل کیږي.

د دې لپاره دامکاناتوتعداد چې 0 غونډاری له ټولټال څلور شنو غونډارو او ۳ بلرنګیز د ټولټال ۱۱ غونډارو را وه وستل شي دی:

$$\binom{4}{0}\cdot\binom{11}{3}=1\cdot\frac{11\cdot 10\cdot 9}{3\cdot 2\cdot 1}=165$$

دا دB پیښېدنې یا رامنځ ته کېدنې لپاره دامکاناتو تعداد دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې سره

$$P(B)=\frac{\binom{4}{0}\cdot\binom{11}{3}}{\binom{15}{3}}=\frac{165}{455}\approx 0{,}363$$

د دې لپار هاحتمالوالی دی، چې کوم شین غونډاری نه راوستل کيږي.

اوم –

په لوبه کې ۸ کسان ونډه اخلي. له هر وار وروسته ۱ سوزي(وستل کيږي). په لومړي وار ۸ امکانات شته دی، د دويم ځل وروسته ۷ امکانات او همداسې ورپسې چې ۱ کس سوزي( (له لوبې وستل کيږي) د دې لپاره د امکاناتو تعداد دی:

$$8\cdot7\cdot6\cdot5\cdot4\cdot3\cdot2\cdot1=8!=40.320$$

A: xxxxxxxL . د امکاناتو تعداد ۷ کسان په ۷ مختلفو ځاونو وه وېشو او لارس په اخرني ځای ځای کړو !7 دی.

له دې سره د A لپاره دامکاناتو تعداددی: $A:7!\cdot1$

له دې سره

$$:P(A)=\frac{7!\cdot1}{8!}=\frac{1}{8}=0{,}125$$

د دې لپار هاحتمالوالی دی، چې لارس ته اخرنی ځای باتيږي.

B: انيا او وانسا اخرنی مسابقه کوي.

xxxxxxVA يا xxxxxxxAV

د امکاناتو تعداد چې ۶ کسان په ۶ځايونو او ۲ کسان په ۲ ځايونو وه وېشل شي !6 ځله !2 (!6 ضرب !2 ) دی.

د B لپاره د امکاناتو تعداد دی: $6!\cdot2!$

له دې سره

$$P(B)=\frac{6!\cdot2!}{8!}=\frac{2}{8\cdot7}=\frac{1}{28}\approx 0{,}0357$$

د دې لپاره امتمالوالی دی، انيا او وانسا احرني سيالی کې مسابقه کوي.

اتم – 10 پوښتنې د هر درې ځابونو سره .

د امکاناتو تعداد له ۱۰ پوښتنو څخه هر وار له درې ځو ابونو څخه چې يو چليپا کوو $3^{10}$ دی. ( مرتبانله ۳ وختلو غونډارو سره، ۱۰ ځله راوستنه د بېرته ور اچونې سره )

A: ټول ځوابونه نا ټيک دي.

د دې لسو پوښتنو هرې لپاره ۲ امکانات شته چې ناټيک چليپا شي.

د A لپاره دامکاناتوتعداد دی: $2^{10}$

له دې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$: P(A) = \frac{2^{10}}{3^{10}} = \left(\frac{2}{3}\right)^{10} \approx 0{,}0173$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، ټول ځوابونه ناټیک دي.

B: لومړی پنځه پوښتنې ټیک دي، اخرنی ۵پوښتنې ناټیک دي.

د لومړیو ۵ پوښتنو لپاره هریوه یو، د دویمو ۵ پوښتنو ته هر یوه ته ۲ امکاناته شته چې چلیپا شي.

د B لپاره د امکاناتو تعداد دی:

$$: 1^5 \cdot 2^5$$

$$P(B) = \frac{1^5 \cdot 2^5}{3^{10}} \approx 0{,}000.542$$

له دې سره

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې لومړی دوهپوښتنې ټیک ځواب شوي دي.

C: ټیمې پوښتنې ټیک چلیپا شوي دي.

دا پنځه ټیک حابونه چې په لسو پوښتنو وه وېشو لاس ته تر $\binom{10}{5}$ امکانات راځي. هر

یوګونی د B احتمالوالی لري.

له دې سره

$$P(C) = \binom{10}{5} \cdot \frac{1^5 \cdot 2^5}{3^{10}} = 252 \cdot \frac{2^5}{3^{10}} \approx 0{,}137$$

د دې لپارهاحتمالوالی دی، چې پوره نیمایي پوښتنې ټیک ځواب شوې دي. .

D: څلور ځوابونه ټیک او ۶ ناټیک دي.

د امکاناتو تعداد ۴ پ،ښنتې چې په ۱۰ ووېشو دی:

$$: \binom{10}{4} = 210$$

په هر ۶ غلط چلیپا شوي ځواب دوه امکاننات شته.

دا $!\,2^6$ امکانات دي.

د D لپاره د امکاناتو تعداد دی:

$$\binom{10}{4} \cdot 2^6 = 210 \cdot 2^6$$

له دې سره

$$t\,P(D) = \frac{210 \cdot 2^6}{3^{10}} \approx 0{,}228$$

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې لپاره احتمالوالی دی، چې ۴ پوښتنې ټیک چلیپاشوي دي.

نهم – ANANAS : د دې لپاره دامکاناتو تعداد ۶ تورې ترتیب کړو!6 دی
A: دا لغات ANANAS منځ ته راځي.
د A لپاره د امکاناتو تعداد دی: 3.2.1
د N لپاره :2.1
د S لپاره :1
د A لپاره د امکاناتو تعداد دی: 12 = 3.2.1..2.1.1
له دې سره

$$P(A) = \frac{12}{6!} = \frac{1}{60} = 0,01\overline{6}$$

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې د ګډوډولو وروشته دا لغات ANANAS منځ ته راځي.
B: د تورو کمبینیشن د AAA سره پیل کیږي:.
AAAxxx
دA لپاره د امکاناتو تعداد:3.2.1
د x لپاره3.2.1
د B لپاره د امکاناتو تعداد دی: 36 = 3.2.1.3.2.1

له دې سره

$$: P(B) = \frac{36}{6!} = \frac{1}{20} = 0,05$$

د دې لپاره اجتمالوالی دی،چې د خوزولو یا ګډوډولو وروسته AAA پیل توري پاتې کیږي.
: یو لغات یو په بل پسې د درې ځله A سره منځ ته راځي.

AAAxxxیا xAAAxx یا xxAAAx یاxxxAAA

د دې لپاره احتمالوالی دی، چې د خورولو وروسته یو په بل پسې یو لغاتو د درې ځله A سره منځ ته راځي.

**پوښتنې**

نمونه ازماېښت او د مشېرلو ستراتیژي III

لومړی – په یوه مرتبانکې ۱۴ برابرې لوبې کارتونه پراته دي، چې په هغو هر یوه یو توری کښل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| کارته له دې تورو سره | A E N O T |
| د کارتونو تعداد | 1 4 5 1 3 |

لاندې تصادفي ترجربې سرته رسيږي:

الف : د مرتبان څخه په يو ځل دوه کارتې راوستل کيږي.

لاندې پېښې تعريف دي:

A : پهدواړو کارتو همغه يا برابر تور ي دي.

B : دواړه راوستل شوې کارتې غږ نه لرونکي (( (v. lat.: *con* = mit + *sonare* = ( Konsonanten (tönen; auch *Mittöner* oder Mitlaut)

C: د لاندې پdښو لپاره احامالوالی وشمېرئ

$P(A);\ P(B);\ P(A \cup B);\ P_B(A)$ او د جلې په ښه ځواب ورکړئ.

ب – د مرتبان څخه يوپه بل پسې ۵ کارتې راوستل کيږي اوپه ترتيب او په پرلپسې توګه يږ بل پسې ايښول کيږی. د دې لپاره احتمالوالی څومره لوي دی، دا لغات TANNE منځ ته راشي؟

پ – د مرتبان څخه په يوهځل ۵ کارتې راوستلکيږي. د دې لپاره احتمالوالی څومره لوي دی، چې د راوستل شوو تور سره لغات TANTE کېښوول شي.

ت – ينس لاندې د لاندې لوبې وړانديز کوي:

د مر تبان څخه په يو ځل درې کارتې راوستل کيږي. دا د لاندې جدول له لارې شمېرل کيږي:

| gezogene Buchstaben mit | Auszahlung |
|---|---|
| 1 Vokal | 1€ |
| 2 Vokalen | 7 € |
| 3 Vokalen | 21€ |
| E, E, E | 28 € |

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرط باید څومره جګ وي،چې لوبه عادلانه وي؟

ټ – د مرتبان څخه پهیوه ځل دوه کارتې راوستلکیږي.

(۱) د دې لپاره احتمالوالی وټاکی،چې راوستل شوې توري وکال (Vokale) یا کونسونانت دي.

(۲) په مرتبان کې باید نور څومره دکونسونانت توري سره کارتې واچول شي، چې د پیښې (۱) احتمالوالی برابر په 0,5 وي؟

ځوابونه

نمونه ازماېښت او د مشېرلو ستراتیږي III

مفصل ځوابونه لومړی – مرتبان ټولټال ۱۴ توري خوندي لري.( لاندې المني: و)

$$1\cdot A \quad 4\cdot E \quad 5\cdot N \quad 1\cdot O \text{ und } 3\cdot T$$

الف - A په دې معنا چې:

$$EE \vee NN \vee TT \Rightarrow P(A) = P(EE) + P(NN) + P(TT)$$

$$P(A) = \frac{\binom{4}{2}}{\binom{14}{2}} + \frac{\binom{5}{2}}{\binom{14}{2}} + \frac{\binom{3}{2}}{\binom{14}{2}} = \underline{\underline{\frac{19}{91} \approx 0,209}}$$

د دې لپاره احتمالوالی، چې په دواړو کارتو توري برابر دي 0,209 دی.

B په دې معنا چې

$$t\, NN \vee TT \vee NT \Rightarrow P(B) = P(NN) + P(TT) + P(NT)$$

$$P(B) = \frac{\binom{5}{2}}{\binom{14}{2}} + \frac{\binom{3}{2}}{\binom{14}{2}} + \frac{\binom{5}{1}\cdot\binom{3}{1}}{\binom{14}{2}} = \underline{\underline{\frac{28}{91} = \frac{4}{13} \approx 0,307}}$$

د دې لپاره احتمالوالی ، چې په دواړو کارتو توري کنسونانت دي 0,307 دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



$$P(A\cup B)=P(A)+P(B)-P(A\cap B)\ \text{mit}\ A\cap B=NN\vee TT$$

$$P(A\cap B)=\frac{\binom{5}{2}}{\binom{14}{2}}+\frac{\binom{3}{2}}{\binom{14}{2}}=\frac{13}{91}\Rightarrow P(A\cup B)=\frac{19}{91}+\frac{28}{91}-\frac{13}{91}=\frac{34}{91}\approx 0{,}374$$

د دې لپاره احتمالولی،چې پهدواړو کارتو توري بربر یا کنسونانت دي 0,374 دی.

$$P_B(A)=\frac{P(A\cap B)}{P(B)}=\frac{13}{91}:\frac{28}{91}=\frac{13}{28}\approx 0{,}464$$

که پوهیږو، چي په دواړو کارتو توري کنسونانت دي، نو د دې لپارهاحتمالولی،چې دا به همغه برابر توري وي 0,464 دی.

ب – ۵ کارتي ترتیب شوي لغات TANNE جوړوي.

$$P(TANNE)=\frac{3}{14}\cdot\frac{1}{13}\cdot\frac{5}{12}\cdot\frac{4}{11}\cdot\frac{4}{10}=\frac{1}{1001}\approx 0{,}001$$

د دې لپارهاحتمالولی ، چې لغات TANNE منځ ته ارښي، نږدې 0,001 دی.

پ – ۵ کارتي په یو ځل.

دې ته اړتیا لرو: $TT\wedge A\wedge N\wedge E$

$$P(TANTE)=\frac{\binom{3}{2}\cdot\binom{1}{1}\cdot\binom{5}{1}\cdot\binom{4}{1}}{\binom{14}{5}}=\frac{30}{1001}\approx 0{,}03$$

د دې لپارهاحتمالولی،چې دا لغات TANTE جوړ شي، نږدې 0,03 دی.

ت – د ۱۴ ترمنځ ۶ وکال او ۸ کنسونانت دي.
د تصادفي متحولو( اووښتونو یا واریابلو)X ارزښتونه دي:

| | 1 Vokal | 2 Vokale | 3 Vokale ohne EEE | EEE | kein Vokal |
|---|---|---|---|---|---|
| $X=x_i$ | 1 | 7 | 21 | 28 | 0 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې احتمالوالی دی:

$$P(X=x_1)=\frac{\binom{6}{1}\cdot\binom{8}{2}}{\binom{14}{3}}=\frac{42}{91}$$

د یو وکال او ۲ کنسوناتت لپاره:

$$P(X=x_2)=\frac{\binom{6}{2}\cdot\binom{8}{1}}{\binom{14}{3}}=\frac{30}{91}$$

د۲ وکال او۱ کنسونانت لپاره.

$$P(X=x_3)=\frac{\binom{6}{3}}{\binom{14}{3}}-\frac{1}{91}=\frac{4}{91}$$

د ۳ وکال بې له EEE لپاره.

$$P(X=x_5)=\frac{\binom{8}{3}}{\binom{14}{3}}=\frac{14}{91}$$

د ۳ کنسونانت لپاره.

د تصادفي متحولو او د انتظار ارزښت شمېرلو احتمالوالی:

| $X=x_i$ | 0 | 1 | 7 | 21 | 28 |
|---|---|---|---|---|---|
| $P(X=x_i)$ | $\frac{14}{91}$ | $\frac{42}{91}$ | $\frac{30}{91}$ | $\frac{4}{91}$ | $\frac{1}{91}$ |

$$E(X)=\sum_i x_i\cdot P(X=x_i)=0\cdot\frac{14}{91}+1\cdot\frac{42}{91}+7\cdot\frac{30}{91}+21\cdot\frac{4}{91}+28\cdot\frac{1}{91}=\frac{364}{91}=\underline{\underline{4}}$$

